سمیع الدین افغانی ۲۰۱۸/۱۲/۲۴

# ديموکراسي د حل لاره نده

درنو لوستنکو!

دیموکراسی، ازاد بازار، د بیان ازادی او د هغو تأثیرات زمونږ د هیواد په اوسنی جنګ ځپلی حالاتو کی د حل لاره نده.

لکه څنګه چي ټولو ته څرګنده ده زمونږ لرغونی هیواد افغانستان پنځه زره کلن تاریخ لري او پدغه تاریخي ادوارو کي په دغه جغرافیوي موقعت کي مختلف پړاونه تیر شوي او ځانله کارنامي لري. دا وطن او د هغه وګړو کله د لوی امپراتوریو مرکز او کله بیا د نور د تجاوزونو د اخ او ډب میدان ګرځیدلای دی.

د چنګیز او هلاکو نه را واخله بیا د وخت د انګلیسی استعمار ګرو اشغال او همدا رنګه د همسایه هیوادونو د مستقیم او غیر مستقیمو لاس وهني زمونږ د هیواد تیر او معاصره تاریخونه ددي پیښو شاهد او دا ترخه واقعیتونه په خپل ژوندي یاد کي لرلي دي.

تاریخ دا جوته کړې چي د افغانستان خلکو د ډیرو مادي او معنوي ستونزو تر څنګ د آزادي خواهي ارادې لرونکي او په وطن مین خلک دي او پدي لاره کي هر قسم سربښندنو ته تیار او په مختلفو تاریخي پړاونو کي د هر ډول تیریو په مقابل کي مقاومت کړی او د پردو استعمارګرو سیاستو نوپه په مقابل کي تاریخي بریاوي اوا فتخارات تر لاسه کړيدي.

خو دا باید په ګوته کړو هغه مظالم چي د یویشتمي پیړی په اواخرو کي زمونږ په وطنو ا لو تیر شول دا هغه درد ناکي پیښي دي چي زمونږ خلک یي د ډیرو کړاونو، محر ومیتونو او نابودیو سره مخامخ کړل، دا وطن یي وران او زمونږ وطنوال یي شهیدان او د خپلو کلو، بانډو او ښارونو څخه اجباري مهاجرتونو ته اړ باستل.

په معاصره تاریخي مرحلو کي زمونږ خلک څه د چپو ایدلوژی ګانو او څه د راستو یا غیر کنترول شوي سرمایه داري نظام او څه بیا په اصطلاح د غیر تعریف شوو دیموکراتیکو نظریاتو!؟ او مفکورو؟! قرباني شول او دا لړ ی دوام لري دا چي دا لوبي به څومره نور دوام وکړي چاته پته نشته او داسي ښکاري چي دهیچا سر پرې نه خلاصیږي.

د یو اټکل په محاسبه او اند زمونږ په ټولنه کي صرف پنځه په سلو کي خلک د لیکوو او لوستلو له بهرې څخه برخورداره دي اما سره له دي هم په د څو لسیزو کي د خلکو سیاسي سواد ډیر لوړ شوی. په دي توګه ویلای شو چي د افغانستان ۹۵ فیصده د لیکلو او لوستلو د نعمت نه محروم پاته کړل شوي دي او مطلق اکثریت په فقر، بې عدالتی او محرومیتونو کي ژوند تیروي.

پوښتنه پیدا کیږي چې په پداسې زړل شوي هیواد کې د راستي، چپې، د یموکراسی یا آزاد بازار به د خلکو په زخمونو کومه پټی ولګوي؟ معلومه خبره ده چې ټول سیاسي حرکتونه د اوضاع د مشخصو تحلیلو پر بنیاد مینځ ته راغلي دي. مونږ ټولو هغه نظریاتو ته چې په هغه کې د بشري ټولني دخیر اهداف نغښتي وي د قدر په سترګو ګورو خو د شک خبره داده چې ددغه اندیښنو په بهانه یو شمیر مفسدو انسانانو خپلو ګټو او منافعو لپاره د دغه شعارونه نه استفادې وکړي چې چا د چپ تر نامه نور هیوادونه اشغال او یو شمیر خدا ناترسه ددین تر نامه خپل ځانونه بډای او چاپیا د دیموکراسی تر نامه زمونږ وطن دخاورې سره خاورې کړ.

که اصلي مطلب ته راشو او د هیواد تاریخي جریاناتو ته په دقیقه توګه ځیر شو دا به راته څرګنده شي چې اکثره هغه ا یدلوژی، سیستمونه او نظریات زمونږ دخلکو د روحیې سره برابر نه وه او یا هم ددی ایدلوژی ګانو ځیني برخې چې د کار اخیستلو وړ اودي په نیمه او غیر دقیقه توګه عملي شوي چې صرف او صرف حاکمیتنو ور ځیني ګټې پورته کړي. زمونږ د خلکو دردو نه یې نه تنها مداوا نکړل بلکې هغوی ته یې بد بختی او مشکلات په برخه کړل.

ښه به داوی چې دتیروڅخه عبرت واخلو او ټول تیر شوي واقعتونو ته په خلاصو سترګو وګوروواو تر دې زیات غفلت به نورهم د دې خلکو سره جفا وي.

د افغانستان په شرایتو کې ازاد بازار یا د خصوصي سکتور تقویه صرف ډیرو محدودو هیواد والو په ګټه دی کوم چې په کافي اندازه اقتصادي امکانات لري، راځی چې دوطن ټولو خلکو ته کوم چې په کلونو کلونو د حد اقل انساني ژوند څخه بې بهرې پاته او تپل شوو جګړو هرڅه ترینه تالا کړي د هغوی د ژوند د ښه کیدو لپاره علمي او بنسټیزې لارې پیدا او عملي ګامونه اوچت کړو.

په افغانستان کې د غیر کنترول شوې دیموکراسي او دبیان د بې مسؤلیته آزادي څخه یو تعد اد خرڅ شوو ناجایزه ګټه پورته کړه او کوي يې. زمونږ تاریخي افتخاراتو ته یې په سپکه وکتل او ګوري، زمونږ قومونه یې توهین او د پردو په اشاره په وطن کې د نفاق تخم کرلي او په ډیر مهارت او رندي دا ملک د تجزیې په لورسوق چې ټول دا اعمال د آزادي د بیان او دیموکراسی ترنامه لاندی تر سره کوي. که قانون د افغانستان وحدت تضمینوي نو بیا ولی ددې کار متخلفینو سره قانوني چلند نه کیږي؟

مطلب د بیان د ازادي نه دا نه دی چې خپلو خلکو او ولسونو ته په سپکه وکتل شي یا په وطن کې د بې باوریو د مینځ ته راوړلو لپاره په رادیو، تلویزونونو او ورځ پانو کې تحریکونکي تبلیغات وشي، ښه به دا وي چې ددی ازادی نه په استفاده د وطن اود خلکو منافع په نظر کې ونیول شي او هغوی چې ددی اصولو نه انحراف کوي ور سره قانوني چلند وشي پدې برخه کې دوطن د بچو مسؤلیت دی چې د داسې افرادو په افشاء کې فعاله ونډه واخلي او خپل رسالت په لازمه توګه تر سره کړي.

اوس په افغانستان کې د بیان د ازادی تر نامه مود ګرځیدلی، ددی لپاره چې میدیا بالخصوص د سیاسي پارتیو نشریې او یا خصوصی تلویزنونه خپل لیدونکی زیات کړي لمړی د دولت په کوم موهم چاړواکي په مستقیم توهین پیل او بیا مستقیما په یو قوم یا ژبې تعرض کوي او که ورته وویل شی چې وروره دا دوطن ملی وحدت ته نقص دی، دا په وطن کې بې باوري مینځ ته راولی، په هر قوم کې ښه او بدشته، ژبه د افهام تفهیم وسیله ده، مونږ باید دانسانانو نیتونو ته وګورو نه د هغوی ژبې رنګ او قوم، مونږ باید دبیان د ازادی په لرلو سره دکلام عفت په نظر کې ونیسو، بس په جواب کې درته وایي دا دبیان د آزادی موقه ده او زه واقعت وایم اوس نو دا ثابتول چې څوک رښتیا وایي او څوک غلت دی، دې ته د یوې قوي عدلي اورګان حکم پکاردی چې سپیناوی وکړي غیر له هغه په داسې سپین سترګی خپل شوم اهداف غواړي پدې ملک کې پیاده کړی چې هیڅ افغان ته د منلو وړ نه دی.

زما مطلب دا نه دی چي د کوم مشخص شخص یا گروپ نه دفاع وکړم خو که هرڅوک د ازادی د بیان تر نامه دپردو په اشاره نورو قومونو، ژبو او د وطن تاريخي افتخاراتو ته سپکاوی کوي دا به دهیوادا و خلکو په گټه نه بلکه پدې هیواد کې به د بې باوریو لړی نور هم زیاته کړي چي دا خپله ستره جفاده دوطن د ملی یووالی پروسی سره.

که څه هم دیموکراسي ښکلی مفهوم یا تعریف لري خو په افغانستان کې پدې عملي نده چي اوس هم د هیواد په اکثرو ځایونو کې د ټوپک قانون حاکم دی د دي خلکو نه جگړو هرڅه واخستل اوس داسي یو عاطفوي مرحلي ته ضرورت دی تر څو دا خلک د بدبختیو څخه خلاص کړای شي ځکه چي ازاد بازار د محدودو خلکو او د سرمایي خاوندانو په گټه دی نه دافغانستان د ټولو خلکو او ولسونو په گټه.

پدې هیواد کې داسي یو سیستم ته ضرورت دی کوم چي عملي بڼه ولري، په وطن کې د جگړې مخه ونیسي، خلکو ته مو دسالمو مصریفتو او شغل زمینه برابره شي، دخلکو دتعلیم او پوهي سطحي لوړولو لپارعملي گامونه اوچت کړای شي، د ټوپک پرځای د قلم حاکمیت را مینځ ته شي.

که مونږ وکولای شو په اوسنی مو قه کي د افغانانو د تفاهم لپاره لارې چارې و لټوو او داد مختلفو لارو او نظریو خاوندان د یو واحدې نظریي او احساس پربنامتحد کړو، هغه کونډو، یتیمانو او بې روزگاره خلکو ته د ژوند شرایط برابر کړو کوم چي هرڅه یي له لاسه ورکړي دابه سترموفقیت اولوی خدمت وي په اوسنی فرصت کي زمونږ دهیواد والو دژوند د ښه کیدو په برخه کې.

دیموکراسی او آزاد بازار په اوسنی حالت کې په هیواد کې د مشکلاتو د حل لار نه بلکه د یموکراسی ته د رسیدو لپاره په افغانستان کې د یوی بلی مینځ لاری مرحلی د تیریدو ضرورت دی.

راځي چي د اوسنی مشکلاتو په نظر کي نیولو سره داسي افغاني دولة نظام او سیستم لپاره کار وکړو چي زمونږ په هیواد کي د تدبیق او عملی کیدو امکان ولري.

زمونږ خلک د ډیر مظالمو سره مواجه کړل شویدي، پدې وطن کي د بنیادي پروژو د جوړولو له لپاره باید کار وشي، پدې ملک کي هر څه شته، دلته دځمکو د خړوبیدلو امکانات ډیر دي، دلته د برښنا دتولید لپاره کافي زمینه برابره ده، دلته نفت، گاز د او نورو قیمتي ذخایر شته چي که چیرې د خلکو د سوکالی لپاره عملي اقدامات تر سره شي د وطن ټولو ولسونو ته د کار او فعالیت زمینه برابره او د حلالي روزي د پیداکولو امکانات برابروي دا به هغه د حل لار وي ترڅو د محرومیتونو ولگي او بی کاری لمن به زمونږ د وطن څخه ټوله او واقعی دیموکراسي یا اجتماعي عدالت ته زمینه برابره شي.        ومن الله التوفیق

یادونه:

که چیرې گران لوستونکی و غواړی چي د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چي، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

دیموکراسي د حل لاره نده
Afghani_sameh_dymocratie_deham_laara_nada.pdf